د هېڅ مسلمان وينه له دريو حالتونو پرته تويول روا نه دي

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «د هېڅ مسلمان وينه له دريو حالتونو پرته تويول روا نه دي: واده شوی زناکار، د قصاص په حق کې (د نفس په بدل کې)، او هغه څوک چې خپل دين پرېږدي او له جماعت څخه جلا شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې د مسلمان وينه تويول حرام دي، مګر دا چې له دريو کارونو څخه يو ترسره کړي: لومړی دا چې: څوک په زنا ګناه کې واقع شي حال دا چې په صحيح عقد سره يې نکاح کړي وي؛ نو په رجم سره يې وژل روا دي. دويم: چا چې بې ګناه نفس په قصدي توګه وواژه، نو د شرطونو مطابق دی هم بايد ووژل شي. دريم: دا چې څوک د مسلمانانو له جماعت څخه جلا شي؛ يا دا چې په بشپړه توګه اسلام پرېږدي او مرتد شي او يا دا چې مرتد نه وي خو له ډلې جلا شي لکه باغيان، لاره شکوونکي غله او د خوارجو جنګيالي او داسې نور.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4714